سلام خان

۲۰۱۱/۱۲/۰۵

# دبن دوهم کنفرانس په بریالیتوب سره پیل شو



د افغانستان لپاره د بُن دويم نړیوال کنفرانس د ۸۵ هیوادونو او ۱۶ نړیوالو موسسو د شاوخوا ۱۰۰۰ استازو په ګډون د دوشنبی په ورځ د دیسمبر د میاشتی په پنځمه نیټه له غرمې وروسته دالمان د بهرنیو چارو دوزیر په وینا په رسمی توګه پیل شو وروسته له هغه د افغانستان داسلامی دولت جمهور رئیس حامد کرزی خپله وینا واوروله چی دوینا متن یی یی په لاندی ډول لوستلی شي.

بُن هغه ښار دی چیرته چې لس کاله وړاندې افغانستان د خپل تاریخ یو مهم پړاو پیل کړ. په دې ځای کې موږ له تورو تیارو او کړاوونو ځخه د پرمختګ او هیلو پر لور سفر پیل کړ. تاسو ټول له موږ سره په دې یون کې مله واست او یاست. دا ډېر د ویاړ ځای دی چې تاسو نن د بون د لسمې کلیزې په لمانځنه کې راسره یاست، زه نن د افغان ولس په استازیتوب، د ولسي جرګې او مشرانو جرګې په استازیتوب، د علماوو په استازیتوب او دلته د افغان پلاوي چې د بون غونډه کې راسره راغلی دی په استازیتوب ستاسو ټولو مننه کوم چې له تیرو لسوکلونو مو له افغانستان سره پرله پسې مرسته کړې، په ځانګړې توګه د جرمني هیواد لویه مننه کوم چې په تیره یوه لسیزه کې یې په بې ساري توګه له افغانستان سره مرسته کړې. د جرمني ولس او حکومت مننه کوم چې د بون نړیوالې غونډې جوړولو کوربتوب کوي، قدرمنو برخوالو لس کاله وړاندې افغانستان له نړیوالې ټولنې سره د ملګرتیا یو نوی باب پرانستیلی. او د دغه ملګرتیا ګډ هدف نړیواله ترهګري وهل او له څه باندې دوو لسیزو جګړه ځپلي هیواد افغانستان بیا رغونه او ټیکاو دی. او نن بیا په بُن کې تاریخ جوړېږي، د یوه خپلواکه او جمهوري افغانستان په توګه موږ دغه مهمه ملګرتیا او همکاري د سیمې او خپل هیواد لپاره لاپسې پخول او ژورول غواړو، په تیرو لسوکلونو کې مو دا فرصت ترلاسه کړی چې هیواد مو ډېر پرمختګونه کړي چې وړاندې یې هیڅ بیلګه نه لیدل کیږی د حکومتدارۍ لپاره د یوه جمهوري سیستم بنیاد کېښودل شو.

زموږ په آیین یا اساسي قانون کې د خلکو بنیادي حقونه لکه ازادي او د بیان اظهار ازادي ضامن شوېده، د طالبانو په واکمنې کې مو د هیواد ښځې له یوې مخې ګوښه کړل شوې وې. خو اوس ورته په ټولنه کې غوره ځای ورکړل شوی دی. اوس ښځې زموږ د ولسي خدمت په ځانګه کې ۲۰ فیصده برخه لري، زموږ په پارلمان کې یې ۲۷ فیصده ونډه ده. ۳۹ فیصده انجونو مو سکولونو او پوهنتونونو ته ځي، دمګړۍ د قانون واکمني هم تدریجي وده کړې. د ولسي خدمت ځانګې ملکي وګړو ته خپلې چارې په ښه توګه پر مخ بیایي، د ۲۰۰۲م کال په پرتله چې هغه مهال روغتیایي اسانتیاوې یوازې ۹ فیصده وګړو ته حاصلې وې اوس د ملک څه باندې ۶۰ فیصده وګړي دا سهولت لري، په ښوونځیو کې د ماشومانو برخه چې په ۲۰۰۲ م کال کې څه کم یو میلیون وه اوس دا شمیره اته اعشاریه څلورمیلیون ته ختلې ده. په تیرو لسو کلونو کې مو د ځینو هیوادونو په مرسته چې نن د بون غونډه کې موجود دي د سړکانو دومره پراخ جال اچولی چې د افغانستان په ټول تاریخ کې یې ساری نه لیدل کیږي، په ۲۰۰۱ م کال کې له افغانانو سره د موبایل فون اسانتیاوې د نیشت برابرې وې اوس ۶۰ فیصده افغانان موبل فونونه او ټیلفونونه لري، د میډیا سیکټر کې یو ډېر لوی پرمختګ وینو، دامهال څه باندې ۵۰ شخصي ټیلیوژني چینلونه دي، ۱۵۰ شخصي ریډیوګانې دي، څه باندې ۸۰۰ ورځپاڼې او مجلې راوځي، په زرګونه شخصي شرکتونه لرو چې ګڼ افغانان پکې کارونه کوي چې پخوا یې ساری نه لیدل کیږی، په تیرو لسو کلونو کې مو اقتصادي وده بې شانه پرمخ تللې ده او دا مهال کورنۍ خاصه ګټه درې برابره زیاته شوېده خو زموږ ګډه موخه چې یو باثباته او سمسور افغانستان ولرو لا هم له خپل هدفه ډېر لرې ده. په ریښتیا هم ننګونې شته چې زموږ د پرمختګ پر وړاندې خنډونه جوړوي، خواري او بې وزلي له مینځه وړل لا هم زموږ د سر سر په لومړیتوبونو کې ده. زموږ تانده ډموکراسي لا هم کمزورېده. افغانان اوس هم په دې کلک باور لري چې خپلو هدفونو ته د رسیدو لپاره ټینګو، اغیزمنو او جوابده ادارو ته اړتیا لرو، ددغه پرمختګونو پر وړاندې واردمخه اداري کمزورتیا ، د متوازي ادارو شتون، څرګنده غلاغدۍ او د ښښنې کلتور، د پیاوړتیا او اعتبار له پلوه زموږ د ادارو د جوړولو بهیر کمزورۍ کړی دی، زموږ تر ټولو لویه ننګونه بې امنیتي ده. چې په لوی شمیر کې زموږ د خلکو ژوند اخلي. او بې له شکه په دې سره مو د ژوند نورې برخې لکه ځان راپورته کول، اصلاحات راوستل او پرمختیا کول له خنډ سره مخامخ دي، القاعده او نورې ترهګرې ډلې له ورایه کمزورې شوې دي. خو په پراخه توګه سیمه ییز ګواښ له پامه غورځول شوی او له افغانستانه بهر د ترهګرو مرکزونه لا هم پر ځای پاتې دي. چې په نتیجه کې یې ترهګر خپل کرغیړن او مکروه عملیات په اسانۍ او بې له ویرې ترسره کوي. چې په دې سره د افغانستان ټیکاو او ثبات له لوی خطر سره مخامخ دی.بلکې د سیمې او نورې نړۍ امنیت ته یې ګواښ راځیرمه کړی دی، موږ افغانان به پر خپله ټاکلې لار مخ په وړاندې درومو او هغه ننګونې به له مینځه وړو چې مخې ته مو پرتې دي.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

**د افغانستان لپاره زما راتلونکې کړنلاره**

موږ افغانان د زړه له تله دا تلوسه او هیله لرو چې په سوله کې ژوند وکړو او یوداسې ډموکراتیک هیوادو ولرو چې پکې له وقاره ډک، خوشحاله او سوله ییز ژوند وکړای شو. په خپلو کې بې له توپیره ژوند وکړو. موږ له افغانستانه یو سوله ییز، سمسور او جمهوري هیواد جوړول غواړو. یو داسې هیواد چې د ټولو افغانانو لپاره د سولې کور وي او له خپلو ګاونډیو سره په سوله کې ژوند ولري، موږ هوډمن یو چې افغانستان به بیا هیڅکله هغو لاسونو ته ونه لویږي چې د نورو بربادي غواړي. موږ غواړو چې زموږ هیواد د سولې یو رښتونې شتمني وګرځي چې له خپلو ګاونډیانو سره پیوستون ولري. دا د هرافغان نظر دی، ددغه لید لوري د ترلاسه کولو لپاره به مو تکل دا وي چې خپلې مخکینۍ لاسته راوړنې غښتلې کړو او له پوره هوډ سره پرمخ ولاړ شو. موږ به د درغلیو ضد لا اغیزمنه مبارزه کوو. د خپلو ادارو د پیاوړي کولو لپاره به لا ګړندي او پیاوړي ګامونه اخلو. او داسې اداره به جوړو چې روڼه او جوابدې وي. موږ به د قانون واکمني پیاوړې کوو. په عدالتي نظام کې به اصلاحات پرمخ بیایو، لکه په لویه جرګه کې چې یې پرېکړې وشوې موږ به خپله اداره داسې جوړو چې بې له سیاسي توپیره د خپل ولس د خدمت جوګه شي، موږ به په انتخابي سیټم کې اصلاحات راوړو. چې دا ډاډمن کړو راتلونکې ټاکنې رڼې، له غلاغدیو او د ځواکمنو له لاسوهنې خلاصې وي، تر ۲۰۱۲ م کال پورې به د امنیتي واک سپارلو بهیر نژدې ۵۰ فیصده افغان ملي امنیتي ځواکونو ته واړول شي، امنیتي لیږد افغان ملي ځواکونو ته سپارل د افغانانو تلوسه ده. او زه دا خبره بیا په ټینګار سره کوم چې تر ۲۰۱۴م کال پورې به امنیتي مسوولیت افغان ملي ځواکونو ته وسپارل شي. او ددې لپاره مو خپلو نړیوالو ایتلافیانو او په ځانګړې ناټو ته ویلي چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو روزنه ګړندۍ کړي چې دغه ډول دوی د خپل ولس او هیواد د خپلواکۍ ساتنه په خپله وکړای شي، موږ به په خپل هیواد کې د سولې او ملي پخلاینې هڅې هم جاري ساتو. او له بدمرغه په سپټمبر میاشت د استاد برهان الدین رباني په وژلو سره زموږ د سولې هڅو ته لویه ضربه ورسیدله، ما په دا نژدو کې د افغان لویې جرګې له استازو سره په افغانستان کې د سولې پر راتلونکې خبرې اترې کړې. دوی په دې رضا وو چې د سولې بهیر باید جاري وساتل شي او له پاکستان سره دوه اړخیزه همکاري باید پرمخ ولاړه شي، د سولې بهیر په باب زموږ اصولونه او تګلاره هیڅ نه ده اوښتې. له طالبانو او نورو هغو ډلو سره خبرو ته کښینو چې د تشدد لاره پرېږدي له نړیوالو ترهګرو سره اړیکې وشلوي او د افغانستان اساسي قانون (آیین) ته غاړه کیږدي. او پرامنه ژوند ته راوګرځي، دا چې موږ انتقالي پړاو ته اوړو خو افغانستان له خپلو نړیوالو ملګرو غوښتنه لري چې زموږ مالي مرسته جاري وساتي چې د خپلو مخکینو لاس ته راوړنو ساتنه وکړای شو. او خپل امنیت او اقتصادي ټیکاو رښتونۍ کړو. او افغانان هم د بُن کنفرانس ته په دې هیله ګوري چې د انتقالي بهیر په ترڅ کې یې هیواد باثباته او اقتصادي وده ولري، زه د جاپان هیواد مننډوی یم چې راتلونکې کال یې د افغانستان د اقتصادي رغونې په باب د کنفرانس رابللو تابیا کړې، زه هیله من یم چې د مرستو ستراتیژی له ثباته د اوږدمهالې پرمختیا لوري ته واوړي. او د مرستو اغیز مو باید د سرسر لومړیتوب وي، موږ به ددې لپاره د پراخې کچې منصوبې جوړو. خلکو ته به کارونه ورکوو او د افغانستان پیداوري یا تولیدي سیکټر به جوړوو. په ځانګړې توګه کرنه، انرژي او معدن په برخه کې به کارونه کوو. زموږ په خاوره کې د زرګونو اربو ډالرو سرچینې یا معدني وسایل پټ دي. او زموږ د اوږدمهالې پرمختیا، ودې او سمسورتیا لپاره موږ خواري باسو چې خپلې دغه پټې خزانې راوسپړو. او بې له شکه د افغانستان راتلونکې هم له سیمې سره پر اقتصادي پیوستون ولاړ دی. چې افغانستان یې په مرکز کې دی. افغانستان له خپله جغرافیایي موقعیت د سیمه ییز هیوادونو ترمنځ یو پول دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ